اندیښمنه ډالۍ

کبرا مظهري مورو



اندیښمنه ډالۍ

کبرا مظهری سلورو

ژوون :

دسپیڅلی شهید « سید ظلیف د پاك روح»ځوانیمرګو ارما نو نو او مقد سو هیلوپه نامه .

کبرا. م. ملورو

د کتاب نوم	:	اندیښمنه ډالی
لیکو نکی	:	کبرا مظهری ملورو
نیراژ	:	دوه زره ټوکه
شماره	:	۸۰
کال	:	۱۳۶۵

دچاپ ځای مانوتایپ-دولتی مطبعه

د ډالۍ سنڼه

دنثر و نو ددې مجموعې لیکوالې ،ښاغلی کبر اسظهری ملو رو ته دحق او عدالت دتأسین لپاره دظلم ،ستم ، استبداد او ناپوهی سره د مبا ر زی شر یفه عنعنه د خپلې درنې کو رنۍ له درنو وطنپالو مشر انو څخه ور ته پاته د ه.

دمثال په ډول، دسظهری کاکاد پښتو مشهو ر نقادشاعر جنر ال (سید حسن حسن) دفیو ډالۍ سلطنت په تـو ره د و ره کـې دجمهو ری افکارو دلرلو په و جه ددی لاری قر بانی شو .

پلار یې سیدسظهر الحق حسینی دخپل و خت د سختو سیاسی شر ایطو سره سره دو یښ زلمیانو دنهضت تکړه سلګری وو ا و په جلال آباد کې یې دهلکانو او نجو نو دښو و نځیو دتأسیس لپاره ډیری هلې ځلې و کړې چې په نتیجه کې دحسینی صا حب د هاندپه اثر دننګر هار په ولایت کې دهلکانو ا و نجو نو ښو و نځې تاسیس شو ل .

دننګر ها ر په شاعر انه ادبی چا پیر یال کې ، درو ښا نفکری کړ رنۍ په غیږ کې ، کبر اسظهری لاد خلو رم ټو لګی ز ده کو نکی و ه چې دشعر په و یلو یې لاس پو ری کړ او دنو سو ری دلو سړ نیو شعرو نو سظهرون هم دوطن دخوارو ا و ار و خلکو درد و نه او کړ او و نه و و .

و رو ـو رو يې مطالعه پراخه شوه، ادبی قريحه يې و غوړيدله دشعر او ليکنې په ډګر کې يې ښه پر مختګ و کړ. دهنر (بر يښنا) يې دلنډو داستانو نو په ډول په ۱۳۵۱ هـ ش کې وځليدله او د (سپو ږمۍ) په نو مناو ل يې په ۱۳۵۶ هـ ش کې رڼا و ښندله، دبې وز لو خلکو د دردا و کړا و دليد لو او حس کو لو لامله (دزړه وينې) يې دشعر و نو دمجمو عې په ډول په ۱۳۵۶ هش کال کې خپرې شوې ـ او دزړه (لمبې) يې هم په ۱۳۶۳ هش کال دشعر په بله مجمو عه کې پو رته شوې.

دنو سو ړی شا عری او ليکوا لی لنډ داستانو نه، شعر و نه او دنثر پارچې و خت په و خت دهيوادپه مطبو عاتو کې خپرې ـ شوې دی. دلته په دی مجمو عه کې دو رو سته پاته هيوادد خو اريکښو و لسو نو دحال او مستقبل په با ره کې د دی اند يښمنی ليکو الی داند يښنو ډالی لوستو نکو ته وړاندی شوې ده.

ددی ډالی دنثر و نو ز ياتره پارچې دشاهی سر داری دورې ترسختو شر ايطو لاندی ليکل شوی يا دهغی تو ری ا و تر خې دو رې تر اخه يادو نه او خاطری دی.

د ډالی په نثری پا رچو کې تر هر څه دمخه زمو ږ دلـر غو نی تا ريخی هيواد د و يارلی تا ريخ، حماسې دخپلوا کی خو ږې نغمې او دز يا رکښو پر اخو پر ځنو دتر سواو ښکو سرغلرې او دبی اسرو

سیر سنو د سپیر و شو نړو تر خه‌و سکا د نظر دخاو ندانو توجه‌جلبوی او دانښی‌چې‌په‌طبقاتی ټولنو کې‌دحاکمی‌طبقی‌له‌خواد اجتماعی‌عدالت دتامین غږ یو ښکاره دروغ دی.

په‌دی اثر کې لیکلی شوی پارچې د څو ریدلو، ز هیر شو یو، خو ار یکښو خلکو دتر یخ ژ و ند دځینو اړ خو نو یو رو ښان‌تصو یر او تفسیر دی. او هغه‌پارچې‌چې‌دهیوادنه بهر په نو رو هیوادو کې لیکلی شوی هر افغا ن ته د خپلی سو رنی خا و ړې سره دسینی کولو پـت سـاتلو، تـر و طـن جـار یدلو ډیری ښکلی‌بیلګی‌دی.

کبر اسظهری هم په (بر یښنا) کې هم په‌زیاترو شعرو نو نثری پارچو کې دټولنی نارو غی، نابرابری‌د هنر په‌ژ به‌یاپه‌ادبی پیرایو، تصو یر و نو، کنایو، تشبیه‌کانـو او استعارو یـاپه‌صراحت څرګندی کړی‌دي.

په دی لړ کې یې دټولنې دعامو پرابلمو نو په خوا کې دهیواد دسحر و سو نجو نو، پیغلو او سپرسنو دژ و ندانه دتیارو ګوټو نو تر اخـه حقیقتو نـه هم‌په ډاګه و یلی او دهغو د انساني حقو نو دتر لاسه کیدو لپاره‌یې په‌پو ره زړ ورتیا قلم چلو لی‌دی. ددی مجمو عی دادبی پارچو ژ به ساده، عام‌فهمه‌او رو انه‌ده‌چې زمو ږ عادی لو ستو نکی هم‌پری‌پو هیدلی شی.

ناآشناا‌و نامانو س‌لغتو نه‌نه‌لری.

ترکیبونه یې پیچلی نه‌دی او ډیر ځله دهدفمنی لیکوالې-
خبرې دتصویر او خیال ،بدیعی صنعتونو او ښکلاو په رنګینیو-
ډیر پسوال شوی‌دی او کله کله یې ویناياد «حقیقت» په‌شان-
روښانه او یاد «رښتیاو یلو» غوندی‌ترخه او ستوغه‌ده.

په هرصورت‌ددی‌پارچو لوستل له‌یوی خوادلوستونکی
ادبی‌تنده ماتوی اوله‌بلی خوادتوروتیارو دورو دحاکمو-
طبقو دنادود واو ناکردو په خلاف یې‌دزړه نفرت پاروی‌او-
دانقلاب‌بریا وو ته‌یې‌هیلی هڅوی.

زه‌پخپله ددغسې لیکوالو، په‌تیره بیادښځو لیکوالو دغسې
لیکنو او په دې‌لړکې دکبرابی‌بی داندیښنو ډالی ته‌په‌درانه
نظر کورم. دپښتو ادب دغنی لپاره‌یې ارزښتمنه درنه ډالی
ګڼم‌او دچاپ لاسله یې‌درنې‌لیکوالې او هم محترمې ناشرې—
موسسې‌ته‌چې(نوموړی اثر یې دنظرورکولو لپاره‌ماته استولی
دی)دزړه له کومې‌مینه‌ارکی‌و ایم‌او ددغسې‌ښکلو اثارو دچاپولواو
خپرولو په لیاره کې‌ورته دزیات توفیق نیکی‌هیلې‌وړاندی کوم.

کابل-خیرخانه

د ۱۹۸۶ دنومبر ۱۷مه

څیړندوی عبدالله بختانی خدمتګار

څلور

پروفیسور :جورج مورگنستون OSLO 23,5, 1976

ډیره احترامی کېږا مظهری ته سلام تقدیموم !

اوس شپږ میاشتی ټیرې شوی دی چې ما له تا اوله نورو منورو میر منو (پښتو) سره ملاقات کړی دی. راته ډیر دلچسپ و. اوزه له تاسو څخه د افغانستان او مخصوصاً د پښتو اوسنی حال په ښه ښا ن سره اطلاع کولی شم. اوستا سو سره هغه ټولی محاوری په یاد ساتم.

اوس ستاسو هیواد کې لکه د سلالی له پیغله پیدا شوی چې لکه دستوری رڼاکوی د پښتون اولس دادب په تاریخ کې، که زه چې په افغانستان ته درنه شم خو ستاسو هیواد به همیشه په یاد لرم اودژوند تر ورو سټی سلګی پورې زما زړه به له پښتنو سره په تی شی.

ستا کتاب (پریښتنا) داستانو نه چې د ټه ر سیږی او تا په ډیره ساده اوخوږه ژبه لیکلي اوهرڅوك پرې پوهیدای شی زما پر خوښ شول ساد (لاروی) په ژبه ترجمه کړل، دلته به ژر چاپ شي همدار نګه ستا قلمی نسخه (د الی) داد بی ټوټو چې ښکلی مجموعه ساستا په هیواد کې و لیده هغه ادبی لیکنی سې ډیری ډیری خوښی شوی زه ویلای شم چې هغه ادبی لیکنی ډیری لوړی اوارزښت منلی دی اوخوږی هم.

-پنځه-

مقدمه:

ما دنن نه د بر کلونه دمخه د څه اثر په دا سی سختو شرایطو کې لیکلی کوم چې انسان او انسانیت د څوظالمو زورورانو تر پښولاندې کیدل او دمعصومو انسانانو دلاس پولسی د تن و ینو او دستړي و جود خولود حاکمو جبارو قدرو تونو دعیش او نوش بزمونه تودول او یوه واړه اقلیت دا کثریت ګټې د څپلو شخصی ګټو په لپاره ګڼې قربانولی او دنورو په تباهی کې یې څپله هستي لټوله.

-اووه-

زه دا نه شمه ویلای چې په دغه اثر کې لیکل شوې
پار چې کوم چې ما لیکلی دلوستو نکو او داد بی ذوق
دخاوند انوادبی تنده به ماته کړي ، خوداپه داد سره
ویلای شم چې دغه څوپار چې به په ریښتیا سره دترخو
واقعیتو نوځر کندوې اود یوې ښځی دزړه ، احسا سا تو
اود درد ونو بړاس وی

نازك بین اوحساس انسان به یې ې قدره نه شعیري
او په حساسو نزاکتو نو به یې هروسرو پوهیږي .

زه هیله لرم چې گران لوستو نکی مخصوصاً قلم
خاوند ان په دغینو تکو دخرگند ډول نه لیکنو نقصان
ماته راوښی ځکه چې شرایط او دزمان حالات لکه
ناکله په جبر دسړې په ستونی چاړه او په خوله یې
دچو پتیاپتی بدی دغه څوتوتی هم رساژ به نه لرې اولږ
غه گونگی دې دا ځکه چې دخاصو شرایطو په هنکړیو
تړلی دي ، چې دا به دزمان ، حالاتو اود همغه وخت
دظالمو حاکما نو دظلم گناه وي .

په درناوی

کبرا مظهری ملور و

لړ

سرلیک	مخ
ډالی	۱
وطن	٥٤
حسرت	۹
لیونی	۱۱
ساقی	۱٥
شپونکی	۱۷
هوډ	۱۹
زهم انسانه یم	۲۱
گل او پرخه	۲٤
سپلمی	۷۷
سفاترانی	۸۲
آزادي	۳۰
رڼا	۳۲
دتوروغرونوترشا	۳٥
اروان	۳۷
نفرت	۳۹

سرلیک	مخ
د سور نغمه	٤٢
زه او ورونه	٤٤
شپیلی غږ	٤٨
ما ته بې وو بل	٥١
زمور بچه	٥٣
ترا یستو نکی گهخ	٥٨
پردی	٦٢
ویره	٦٤
ښکلا	٦٧
د سور ارمان	٧٠
سترا سینه	٧٤
تپوس	٧٧
تصور	٨١
پښیمانی	٨٦
دبابړی شهید ته	٨٩
عمران	٩٣
دعاجزی پیغام	٩٥
پرېوکی	٩٩
چوپتیا	١٠١

ډالی

زما ډالی
دظاهري ښکلا دسینګار ډالی نـه ده
زما ډالی، پریښنده يې سارو پی نه دی
اونه دناز دمیر منـی دغاړی دښایست دپاره
پلاتینی هـارونه

* * *

زما ډالی دبد مستی ترانی
لمسو نکی شوق

اود تخنیو نکی غزل نه دی
زما ډالی دتینه کونو خرمستیو
او نشئو ډالی نه ده

* * *

زما ډالی دبې ډیتی بې ننګی
او بې غیرتی ډالی نه ده
زما ډالی د بې شرمی
او وطن پلورنی ډالی نه ده

* * * *

هو: زما ډالی د ټرسو او بزکو نلغاری
د خوږ سنو زړونو د سروو ینو نه جوړ یا قوتی امیلونه دی
زما ډالی د غمجنو د تس نس گوگل بې اس
او سوی ساندی دی .
زما ډالی : دویر ژلو د حال ژوندی تصویر
او ستر انسانی آرمان ته درسیدو سیخه لاره ده
زما ډالی خوسوی کړیکی
د یتیم بچی او بې وسی کونډی سور
د نیګمړو امیدونو
او تا لاشوو هیلو هیند اره ده

زما ډالی دښې و زلمو دتیاره ژوند څراغ
اودخوارانو پهسینو کې دبندشو واوازونورساغږ
دکړیدلی مزدورد سوړ تن لړ زهاو د بې ا سری
وینځی دسپیرو شونډه و ترخه خنداده
زما ډالی دترحم،ا نسانی حس ،اجتماعی مسوولیت
اودبشریت دپاره دخدمت
ډالی ده
زما ډالی دخوږ ښکلو وژوندی تصویر دوړوګیډو
در د اودمحرومو انسانانودژوندرونې تر سیمدی
زما ډالی دمعصومیت سپیڅلتیا
اود عفت ډالی ده
زما ډالی دغرور او
حیا نه ډکه پلوشه ده
زما ډالی د ریښتونکی عشق بلـه ډیوه ده
اود خودی زړه رابنکونکی انګازه

* * *

زما ډالی دوطن پا لنی، خپلواکی
اوآزادی ډالی ده

زما ډالی بې ننګو زلمو ته د ډیغو رو نو نه ډکه ډالی ده
زما ډالی د پټ، ننګ او غیرت خوږترنم دی
زما ډالی
دوطن د جنتی شهید له و ینو نه د پاك احساس
د سپیڅلی ناوی د تندي د پاره
د افتخا رشینکی خال دی .

وطن

(هرچا ته خپل وطن کشمیر دی)
خو ما ته
اې زما پښکلایه وطنه !
ته دنړۍ تر تو لو پښکلاو پښکلی
او غوښتو نکی یې
ای زما دخاړ پوسو ځا لی !
ستا دنوم په اخیستو سره زما د زړه مړاوی
غوتی وغوړیږی

په سپیرو شونډو مې مسکا خوره شی
او په غمجنو سترګو کې مې دخوښۍ
ږیښمنا و پرې قیږی .
ماته له خپل ځان او ټول جهان څخه
ګرانه وطنه!
هسی خوته تل زما په خاطر ،ذهن ،شعور،وینه
اوجذ با تو کې یې
یوه ګړی هم ستا له یادو فا رغه نه یم.
خو نن ،
هو نن مې څه بل ډول زړه در پسی نولیږی
او ستا د بیلتا نه هره شیبه په ما لکه د کال هسی
اوږدیږي
دا څکه چې نن دلته
د دغی پردی خاورې په سینه کې
ستاد برم کیسی ږیدی ګورم
دغه خپل قبرونه
اود لعل قلعی ویجاړه برجونه
راته ستا د زړورو بچو سر ښیندنه

اوستا غښتلی حماسه جوړونکی
شاه زلمیان ستائی ،
دغه څوک قبروئه
اوو یجاړ دیوالونه
ستادلر غولی تاریخ بې مثاله کارنامی-
دمیړانی غیرت اوشجاعت کیسی راته ر ایادوي.
ددغو سپیر و خاورو څخه
ستاددرانی نهضت و یاړ نو
سر راهسك کړي .
هر پردي اولیدونکی ته
ستادځلا نده ماضی دعظمت
اونار یښتوب ترانی زمزمه کوي
دد غوځړ وقبروخاډي
او ددغه ځای کانې ، بوتې سیلا نیانوته
ستازرغوله ،
ستاد سیوند ملالی
ستایې
اوستاد بریا لیوبچود اتلولنی سندرې

ورته بولی

ای زما سر لور یه و طنه !

گران افغانستان !

تل : سرلوړې

ازاد آباد

او خپلواک اوسی

۱۹٦۸

هند

نوی ډهلی

لعل قلعه

حسرت

تا له ما څخه د مینې غوښتنه وکړه
تا ویل: ته پر ما مین یې
تا ویل : زما د مینې په لمبو کې سوځې
تا ویل . زما څخه بل هیڅ شی په تا ګران
او عزیز نه دي
زه وایم :

تا ته د پیسو نه پرته بل هیڅ شی ارزښت نه لري
که ته دروغ نه وایی
که پرتا انسان گران وي
او که ته دځیښناك
په دسترخوان
د مظلوم وینی نه څښی
نو دا تو له هستی مال مکښت دی له کومه کړ.
نه ته زما د مینی لایق نه یې
ته خپله رضا اوسات تیری غواړی
تا ډیری له خپل یاغی هوس څخه جار کړی
خو ما نه شی تیر ایستلای
زه تا ته په رسا غبر وایم
ځن سبا دی دتاریخ په هد یره کې
د بخید و وخت راغلی دی

لیونی

رنګ یې ژیړ
او بڼه یې الوتی وه
چا په کانو ویشته اوچاور پوری خندل،
تولو دهغه له زور و لوڅخه خوند اخیست
لیونی دخپل ځان دخلاصون کوښښ نه کاوه
د کانی دهر ګوزارسره به یې ویل :

دليوا نو په تولنه کې بايدمظلومه هوسی
په کانو استقبال شی.
ماچې دليونی خبرې واوريدې
دليونی خواته ورنږدې شوم
په ږيږد لولاسونومې ليونی دلاس څخه و نيو
اوور ته ومې ويل :
ښه فلسفی :
ته څنګه وپوهيد يې چې دوي ليوان دی؟
ليونی زماخواته پرنډ پرنډ وکتل
او په کرکجن اواز سره يې راته وويل :
دروسه
ماته فلسفی مه وايه
زه ليونی يم ليونی
ته هم ماپه کانو وله
ورته مې وويل : نه نه
زه تاد کانو ګډ ارو نوته يواځی نه پريږدم
ته ليونی يې که فلسفی خبره دانسانيت ده
اوته انسان يې

ته دلیو انوپه لاس کیو تی یې
تو له تو لنه لیوان نه دې
اوسړي خوره نه دی
دلیونې په ستر گو کې او ښکی ډنډشوې
لږه شیبه خاموشه شو
ترخه خندا یې و کړه
او دخند اسره سم یې په مخ داوښکو
دوه څا څکی و خلیدل
په غمجن او نیو لی اواز یې راته وویل :
هو. زه لیونی نه وم
خو خلکو اوددغی اجتماع ظالمو اوسړي خورو نکو
خلکو راځخه لیونی جوړ کړ.
ملك صاحب را څخه پو له پټی په زور و اخیست
حاکم صاحب راځخه پیسی و اخیستی
رئیس صاحب زما نا زولی لور کی یې پته کړه
قاضی صاحب مې کور لوټ کړ
کوتوال صاحب را څخه د سرپګړی اود تن کالی په
زور سره واخیستل

نو روڅې لوڅ او برېښنډو لیدم . په کانو یې وویشتم
د لیونی په نامه یې یاد کړم
اوس زماسره نورهیڅ نه شته چې دوي
ته یې ورکړم
اوڅان د کانو له ویشتو
وژ غورم
او....
لیونی لا خپلی خبرې نه وی
خلاصی کړی
چې بیا له هر لوري پری د کانو ګذارونه شروع شول
زما لاسونه او پښې هم د کانو د ګذارونو په سبب
زخمی شوی
ځکه چې
د لیونـی ملا تړمې کاوه

ساقی

دا هار ین دوبی
ټکنده غرمی ډیره تبری کړی وم
خوله مې وچه او ساه مې بنده بنده کیده
ډیری نارامی او تندې مې وګالمی
څوتاته درو رسیدم
په دی امید چې ته به مې سیراب کړی

ساقی جانه !
زه نه وسه خبره چې ستاخم تش او
کنډولی دی سات شوی . .
ساته دبيرته تلوتوان نه دی پاتی
ځکه زه دډير لرې واتن دوهلوځيخه
وروسته تاته رسيدلې يم
زما تنده ګړی په ګړی زياتيږی
ژبه سې په تالو کې نښتی
زړه سې بې واره درزيږی
آه !
ستاخم تش دی ! ؟
کنډولی دی سات اود ميخانی
کنډوردی
نړيدلی او
ويجاړ ښکاری .

شپونکی

دهغه دشپیلی غږ
لا تراوسه زما غوږونه تینګوی
خو: ډیره موده کیږی
چې زما غوږ و نوته نوره نه رارسی
د شپیلی خوږ غږ یې
ددری کالنی بوټی مستول

بیده طبیعت یې ویښوه
او انسان یې په ولوله
راوست

* * *

خو هغه دخونړ یو منګاو په ذریعه
دمړینې نړۍ ته لاړ
خو لاره یې...
ژوندۍ ده
رونه اوابد ي ده

هـوډ

زه پخپل هوډ تینګه ولاړه وم
زما لوړه د کانې کړښه وه .
زما مینه له تاسره ریښتونې وه
ما د رته په ډیره سادګي او معصومیت خپل سر او
مال پیشکش کړ،
خو ستا غوښتنه ډیره لوړه وه

او کثیفه

تا دخپل عشق او مینی په بدل کې زما څخه
زما دشرف او پت غوښتنه و کړه
تا غوښتل زما څخه زما عزت او ابرو واخلی
تا غوښتل ما نړی ته سپکه او مخ توری کړی
تا غوښتل چې ما دځان مینځه کړې او زه ستاد
غلامی کړی په غوږ کړم
نه نه ! زه د داسی دلیر
مینه نه غواړم
زه خپل هوډ ماتوم
ستا نه کر که لرم
اوس ستا څیره ماته
د توری بلامخ دی چې زه بې دلیدو زغم نه لرم
زه ستا حیوانی خواهشا توته
او ستا غیر انسانی غوښتنوته د (هو) ځواب
نه شم در کولای
زه ستا دور کړی په بدل کې خپل ننګ
او خپله خودې په تا نه پلورم
زه پښتنه یم
ماته سور پښتنی شیدې را کړې
غلامی او بې پتی نه شم ځغملای

زه هم انسانه یم

ما ته ولی په تیتو ستر کو کوری
ما ولی تحقیر وی
ولی مې ترځان کمزوری کنې
او بې ځایه مې رقمی
زه هم انسانه یم
زه هم لکه دتا په څیر په انسانی تولنه کې

ژوند کولوحق لرم
زه اوته یوشان یه تش لاس نړۍ ته راغلو
ته ولی زور ور شوی ؟
اوزه کمزوری؟
دا ځکه چې تا زما قوت او طاقت زما په ډیوکې
واخیست
تا زما توان زما ځیخه هغه وخت واخیست
کوم وخت چې تا زما په رحم کې زما له وینو څخه
تغذیه کوله
ته هغه وخت زور ور شوی کله چې تا اجتماعی
نظام او تولیدی وسیلی ترلاسه کړی
ته دځنګل دقانون پیروی پریز ده
موږ وحشی ځیر ونکی نه یو
زه اوته اشرف مخلوقات یو
زما او ستا حساب ایدا نسانی
او منطقی وی
نه دمتود زورحساب
زه کمزوری نه یم
زه دارۍ نیم و جودیم

زه لکه دتا په څیرهر کار کو لای شم
خو : ته مې نه پریږ دی
اوتازه دتوری خونی دځلورو دیوالونو
تر مینځ بندی کړی یم .
زما دالو تووزری تارا پریک کړی
زما لاسونه اوپښی دی تړلی
اوزماژ به دی گونګړی کړی
نورهاو ختونه تیرشوی
ها وروست منطق زوړشوی چې:
«ښځه یا په گورده یا په گور»
ذن دنړی د پرمختګ څرخ
نراو ښځه پوځای
اوږه په اوږه څرخوی
دنراو ښځی ترمنځ برابری
زمونږ دزمان مضمون
او پروسه ده
نو راشه ، زما سره یو شه
ساته لکه دځان په څیرد ژوندکولوحق راکړه
خود خپل هیوادستونزی په گډه
له منځه یوسو

PROPERTY OF ACKU 10181

ـ گـل او پرخه

خوب راڅخه سرور شوی وو
او پټی اندیښنی پټه ځورولم
همسی مې آسمان ته کتل
اود آسمان دستورو په نندارہ وم
له ځایه را پورته شوم
دبهی دونی لاندی کښینا ستم اودوحشی طبیعت

له نندارۍ څخه مې خوندا خسته
غوښتل مې چې څه ولیکم
خوځه؟ د طبیعت په غیږ کې
سره ګلان وستایم او که
دچا په ویرلرلی ژوند وژاړم
زه لاد سوچ په تال کې زنګیدم
چې د چرګ غږ شه
دخیال له نړۍ راووتم
سپوږمۍ تته تته بر یښید له او
دګهیځ رڼائي دافق لمن سره ګډ وه
اوریدل مې
چې ګل پرځي ته ویل :
له ما ولې پیلیږۍ
ګرده شپه دی . زما پر سینه تیره ګډه
او اوس ا سمان ته الوزی
د لمر دتاو زغم نه لرې ا
ځومره کم طاقته او کمزورۍ یې
راځه مه ځه
او له ما څخه مه پیلیږه
راځه دواړه سره یوشو
او ځان ته دامید و نو ښکلی
نړۍ جوړه ګډو.

سیلی

تنکی سبا وون نوی غوږ یدلی وو
دشفق سرخی د آسمان په کټارو د اسی بر یښیده
لکه د مین په وینو لړندزړه
د شبنم او ښکی لاد گل پرتټر ځلیدی
دسهار یخ نسیم ورو ورو روستاد ښکلی مخ څیخه
د تورو څنو وریځی شړلی

اوزه د لمر د زرینو پلوشود شینه لوپه
امیدوم
ماډیری ښکلی اوسپیڅلی هیلی د خانه سره راوړی وی
او پاکی ارزوگانی

* * *

چې نا ښېره
د فضا رنګ بدل شو
د کائینات تو پرمخ تورځا دروغورید
ناولو دوړو
تراخوا وسیخونکو بادونو د نرمی وړمې ځای ونیو
ستا ښکلی سترګی له سپیرو خاورو څکی شوی
اوزما هیلی نیمګړی اونیمه خوا
لکه د بسمل مارغه پخپلو وینو کې وشتیدی
هو د زمانی ترخه سیلی الوتی وه
اوهر څه پې لوټ کړی وو.

ستاترانی

ستا ترانی شاعری نه دی
خیالی هم نه دی
چې دژوندله واقعیت څخه لری
او انسان دحقیقت څخه پردی کړی
بلکه دریښتنی ژوند،
ریښتنی انځور

او دژوند د بدلون
زړه وړه حماسه ده
ستا تر ا نی ضمیر ر ا لړ زوی
خوب تښتوی
ا وو لولی ر ا پا روی
ستا تر ا نی
د کر غیړن ژوند پر ضد
تو پا نو نه جوړوی
رښتیا !
ستا تر ا نی د نو رود تر ا نو په ډول
بې ساه ا و بې روحه نه دی
ستا تر ا نی د قدر تو نو ا و د جبارو طاقتونو
مدحه ا وستاینه نه ده
ستا تر ا نی د خپلو ا ک ژوند خپلو ا که نغمه
او د زړورې مبا رزې
ا و چته حماسه ده
هو: ته د دی لایق یې
چې با ید و ستا یل شی

آزادی

ته دا افغان دژوند او مرګ
د فیصلې نوم یې
ته زموږ د عزت او شرف سپیڅلې سلغاره یې
ته دا افغان دپت او ابرو معیار یې
ته زموږ د ننګ او ناموس ګلالی ناوی یې
ته دا افغان د لرغونی تاریخ هغه قیمتی غمی یې

چې د سرونو په قیمت او د سرو وینو په تویولو
سره لاسته راغلی یې
ته موږته له ځان او ځهان لوړه او غوښتو نکی یې
که خولی مولـه تورو خاورو ډکی شی
که په هرځومره لوړه سزا محکوم شو
که مودتل د پاره وژړو ي
که هستی او موجودیت مونا بود کړي
که بند بند موسره جدا کړي
ډاډه او سه چې ته به خوندي وساتل شی.
ځوچې یو افغان په نړی پاتی وي
جلالی او ریښتونی افغان
ته به خوندي وساتل شی

او د خپلی ازادی بې به دوطن اصیل او شریف
بچې د خپلو سرونو په سرو وینو
خړوبه کړي
اې د ازادی ښکلی مرغی !!
ته به تل د افغان د عظمت په هسکو غرونو
او لوړو سردرو
الوتنه کوي
ډاډ درکوم
ستا وزري هیڅ لـوټ مارنـه شی درپرېکواي

رڼا

درناضد تورتم دیٔ
په تورتم کې څوک څه نه وینی
هرڅه یې له ستر گوپټ وی
ځان او نور نه پیژنی
دوست اودښمن ورته یوه ول بریښی
دژوندانه کړاوونه خپل سرنوشت ہولی

او له ځايه نه خوځی
د حق ار نا حق تو پير نه شی کولای
د ژوند انه بيړی يې د تو روتر يږمبو
په ډو ونکو څپو کې لا رو رکی ګرځی

* * *

په رڼا کې هر څه لږدل کيږي
ځان او نور
بيه او بد
تور او سپين
په رڼا کې د هر څه تو پير په څرګند ډول کيد لای شی
په رڼا کې څوك لاره نه غلطوی
دوست او دښمن پيژنی
او د ژوند کاروان په سمه لاره روان ...

* * *

نورا شه
له تورتم نه راو وځه
مه بيريره
ويره لکه تور شپا مارا نسان خوري

ځان ځا ني او نا ښود ي را ولی
پا څیږه!
له ځایه په ځغر ده را و لګیږه
او دژ و ندانه ډیوه بله کړه

دتورو غرونو ترشا

دلته له تا لري
دتورو غرو نو تر شا
دنړۍ په دې ګوټ کې
که څه هم
دخوښيو اونيکمر غيږه غيږ کې ،
در از راز ګلونو په لمن

اودښې اندې سیندو نو په ارته سیغه کې تو کو او خندا وو
د غم او اند یښنو ځای نیو لی دي
هره خوا طراوت، خوښی
او ښکلا ده
هیڅوک خواشینی نه ریښی
خوزه!
ستاد مینې په تاوکې
ټل تا یا دوم
ستالید و نه هو سیږم
ستا په یاد دزړه په وینو تر انې لیکم
او سا خواري مې ژړوي
اې گرانه هیواده!
افغانستانه!
زما هیله:
ستا سر لوړي اوابادي ده

۱۹۶۸
هانګا نګ

کاروان

مو ږلا ښه ده
دژوند پر کرښه
زمونږ دژوند جوړه ترڅنګ پاتې ده
دنورو کاروان
وړاندې تللی دی
زمونږ او دهغوی ترمینځ

لازیات واتن شته
له در انده خوبه راو یښ شی
اودژوندکاروان سو
په سمه لاره رهی کړی
راپاځیږی
دبیدیدو وخت تللی دی
ځانونه چمتو کړی
خو ځښت په کاردی
وگوری
ن گهیځ شفق
دشپی له پنډې پردې څخه
تاسی حرکت ته
راهولی

نفرت

تا ته مې وويل :
ته د هر شيکلی يې
ستا ستر گی مې د عطوفت دريا ب و گنلی
ستا مخ نه مې د څوار لسمی سپو ږمی خطاب و کړ
ستا غاښونه مې تر الماسو رانه و ستايل
ستا قد مې تر سرو رسا و کښينه

ستا شونډی مې د ګلاب ترپانو سری او نازکی
جوړې کړی
ستا وروځی مې لیندی
او ستا پانه مې غشی و بلل
ته مې د قلم په ژبه د نړی ترټولو ښکلو ښکلی
ښکل کړی او تا ته مې د مینی اظهار وکړ
کله چې تا زما د شعر په هندار ه کې خپل ځان ولید
ځان در ځخه ورک شو
د کبر او خود خواهی څپو د اسی پخپل ځان
کې ډوب کړی چې بې له ځان څخه دی بل هیڅ شی
او هیڅوک نه شولید لای
زما په قلم جوړ شوې بت او رنګین تصویره!
ته په ربښتیا سره ښکلی نه یې
عاطفه، منطق او ډوډۍ کر (تر هم نه لری
زه له تا سره مینه نه لرم .
زه ستا او ستا په ځیر نورو ټولو
هغو ځخه چې لکه د تا په ځیر ځان غوښتو فکی دی
او ظالم ورځخه کر که لرم
او نفرت

دا چې ماسټا ستا ینه کړی
فقط ددی دپاره چې ګوندی په تاتاثیر وکړی
او په رښتیا سره ته ښه اوښکلی شی
کله کله مې ستا ستا ینه لهویری هم کړی ده
او ستا دستا یښی په پلمه مې ستا له مرور ونکو
سنګلو ځان خوندی کړی
زه له تا سره مینه نه لرم
ته ښکلی نه یې
زه له تاڅخه نفرت لرم
اې نفرین شوې!

دمور نغمه

له تاوزېږ يدم
له هيڅ نه خبره نه وم
د دنيا څه اوبد راته نه ووزده
ستا د غېږې په مدرسه کې
ور وزل شوم
ستا د پيو څخه زما تن

او ستاد لا رښوو نو څخه
زما اروا ورغيده
ته زما دلژ ندژوند
او نا ارمه‌سا خسما نه يې
تاماته ژوندرا زده کړ
او
دژوند کولو په رازدې پوه کړم
تازما دهوسا ينې دپاره
کړې شپې په ويښه تيرو لې
ته زما هم تن اوهم سا يې
اى سورې!

زه اووړمه

خړ سهار دی
خړی رڼا یې
وزری غوړولی دی
* * *
زما ملګرې لا بیدې دی
دشپې له خوبه لا نه دی ویښې شوی

لاچو په چوپتیاده
د کلیسا د زنګ ګړنګ ګړو نګه شته
یوازی دسمندرد مستوخپو غږ ،
کښه کله دسهار نی وږمی پر اوږه
دلته رارسی
اودشپی چوپتیا
چې لا تراوسه نه ده ایل شوی
ما توی
زما (نندو) فلپاینی ملګری
چې تل به یې په تو کو ، مسخرو
اوخندو نکوژیستو نو
خندو لم په خونه کې نه شته
نوچاله خوبه را کښینولم !؟
ولې مې و یښتان جړدی ! ؟
زما دخونی ورځولا هماغسی تړلی دی!
نوځرك را ننوت چې له خو به یې راو یښه کړم

* * *

هو کی !
دګهیځ توڼه وږمه

د کړکی له لاری را ننوتې
او زما د پښتانو پې
جړ پړ کړی دي
* * *
دغه وړ مه سیځو نکی اوچغلګره ده
څه ناڅه تودی بروته ورته ده
مینه له لګی
ځورونکی اوستړې کونکی ده
* * *
اې زما د پښکلی هیواد
دسوین غر پستی وږمی!
څومره خوند وره
اوخوږه پې
د سوین غر له واورینو څوکو
چې راو الوزې
پیا په ځوړه شی
کور په کور ګرځی
او وګړوته دې نوي ساور کوي

دلته چې ته رایاده شی
ستا په یادسې زړه وغوړیږی
اې زما د ګلابی هیواد!
دښکلی هوا بچیه!!

۱۹٦۷
فلپاین
د لګسپی ښار

دشپیلی غږ

له تا سره غږ یدم
ستاد ګلالی مخ نندارې مې کوله
ستا په بدمسته سترګو کې مې
دیاغی نړۍ دې پروا یې رازلوسته.

د تيغ د کونو په جهان کې
د نشئو په وزرو مې
لوړې الوتنې کولې
تاته به ځيږوم ! اوستاد ستر گو په شين درياب
کې لمبيدم
دژوندانه ستونزې او کړاوونه مې هير کړې وو
ستا داغيږنا کو ستر گو سيد لو
له ځان او جهان نه پردې کړې وم

* * *

له کوم ځای نه
د شپيلی غږ شه
اوازې دويشتلوزړو نو
سوو ساند و ته ورته و و
له رنگين سوچ نه بې را بهره کړم
ته د خيال په نړۍ کې
د خاطراتو په څپو کې ډوب
اوله ستر گووتلی وې
خو خيال دې زما په ذهن کې

په نښاو و
اود پردیسی دشپیلی
خوږغږ
زمادزړه پردي راتخنولی
اي زما ښکلیه ،
حوږه !

ماته يې وويل

ماته يې وويل :
پرماګرانه يې
له تاسره مينه لرم
تادمينې په نړۍ کې،دمينې په راز پوه کړم
تاماته داسې دنيا راوښوده چې تراوسه تړې
پردې وم اوبې خبره

هغه د ساتنې په بدل کې
ماته خپل زړه راکړ
او راته يې وويل :
زړه مې مات نه کړې
سمځل يې هم شبه نه دي
څکه که پروار مات شه او ايرې
نو؛ يا نه روغېږي
نه کوشير يږي
او نه پوند يږي
او يا ،
ډير مشکل دي
روغ-ول دشکسته وو

ز مو ږ بچیه

زمو ږ بچیـه !
زمو ږد سپ ځلوهیلو د ښ تنکیه ګله !
زمو ږ کوچنیه اتلـه !
نن زمو ږ په غږ کې نا توانه پروت یې
خو : سبا !
هو ! سبا به مو ږدنا تو انی احساس کوو

اوخپل توان به ستاد غښتلی ځوانی په رڼه هنداره
کې ګوري
اې د سورا و پلارد ستر ګونوره !
دزړو سروره
زموږ ارمانونه چې موږ ونه شوکړلای ترسره يې کړو
امید چې ته به يې ترسره کړې
زويه :
زموږ شکلميه بچيه !
لوی شی دلوی فکر خاوند شی ، نه
دلوئی اوتکبر
زويکه !
زموږ دژوند يوه غوره هيله داده چې
ته قهرمان شی
اولوی انسان
ته د بشريت د سعادت ، د انسان د خوشحالی
او سوکالی يې ساری سخکښ شی
امید واره يو چې توله ټری به ستا په نامه افتخار
وکړي

زمونږ تل ټبره!
صداقت ، رښتيا ، وطن دوستي ، انسان پروري
خپل شعار کړه
زمونږ دزړه کتري !
ستا ښکلي سترګي دي تل د علم
او معرفت په رنځو توري وي
زه دخپلو غوښتنو ملغلري درته پيم
زما ګلالیه !
تا ته دخداي د مخلوق ، دخپل هيواد دخدمت د طاقت
غوښتنه کوو
اوستا دير يا ليتوب مشال تل رو ښانه غواړو
په سوګرانه ټبره !
ګذشت ، فداکاري ، حوصله
اوبردباري خپل عادت وګرزوه
انسانی ګرامت ته درناوی ، دلويا نو احترام
اوپه کمزورو شفقت دځان زيور کړه
د کورنۍ پت ، ننګ ، غيرت ، سرليتوب ، شرف
اوناموس داري بايد ستا د ژوند

عالی مظاهر وي

د ښه کرکټر د اسا سی بنسټ اپښو دو
غوره معیار د ضمیر او وجدان سوچه والی
او پاکی ده
تل ځان سوچه او پاك ساته
زموږ بچیه !
ته به اتل شی
زموږ بچیه !
ته به لوی انسان شی
د مور او پلار د ستر گو تو ره !
که نن زموږ خوښی او نیکمرغی سبا په ښکلو ستر گو کې
غږ یږي
او د نړۍ ستري خوشحالی سبا په موسکا کې گورو
که نن زموږ ستونزی او غمونه سبا د معصومی
خیري په لیدو سره محوه کیږي
زموږ د سبا خوښی
زموږ د روح آرامتیا
او زموږ د هیلو پوره کول

ستاد سبا په ملوك ، کړنه ، فکر
اوښه سړي توب کې ښکاري
زمونږ نیمګړې هیلې اوسپېښلې امید ونه به
هله پوره شي چې ستا عمل
اوکردار ، ستا چلند
او بر خورد په ټوله معنی انسانی وي
د خدا ي !
او وطن د شرف اوهیواد ، دخپلوا کې اوآزادۍ
سینه د خپل ژوند غوره هدف کړه
زمونږ ښکلیه !
زمونږ ژوند پتیا لیه
داده ستاد سور او پلارارزو
او آرمان
داده ستا څخه زمونږ دسورني او پلرنی حق د غوښتنو
او پوره کولو هیله
لوي شی !
د مور او پلار د ژوند څراغه
لو ي شی !
ز مونږ اتله لوي شی
او د نړۍ اتل شی

۶-۳-۱۳۶۱ ه
کابل

تیرایستو نکی گهیځ

زیاته خوښه وم
د دنیا هرڅه را باندې ښه لګیدل.
خو: یوه پټه نا ارامي ،مې حس کوله
ګرۍ شپه مې په ویښه تیره کړه
ستر ګی مې د هسك په لور
برندې نیولی وې

اودګهیځ دراتلو پهمیله وم
هغه را ته ویلی وو
کله چې ګهیځ خپله ر ناوغوړ وې
اوداسمان کتاري سرې شی
هلته در نواوبو پرغاړه
چیرته چې دنګو څنار و نو اسمان ته سر لیږ کړی دی
زماد راتلو نغړانده کوه
دنغړاندې ترخی شیبی لکه دکال
اوږد یدي
اوزه په ډیره بې تابی
او بې کراری
دګهیځ راتلو ته ستر ګی په لا روم
کتل مې چې تر یمی ورو ورو
خپلی و روستی لمنی دځا ن پسی را ښکلی او ر نا
شینکی اسمان په ګوګل له خند اشنه شنه کیدله او ما
په ډیرې خوښی دځا نه سره وویل:
سهر شه

اودهیلو غوتی مې وغوړیدې
له ځانه په را ولټیدم
په خو ښې او تلوارمې
ددنګو څنارو نو په لور خپله لاره لنډه وله
دځمارو نو ښ ته لاهوم رسیدلی
چې تهی تر بړمی بیاخپلی ناولی وزرې وغوړولی
اریانه دریانه اوهکه پکه ودریدم...
نه پوهیدم څه وکړم
لراو برمې اوتراو ترکتل
له ځانه سره و بوګنیدم
ګوندې خوب وینم!
داخر نګه ګهیځ وو...!
چې ر نا یې لانه وه خپره
اوتر بړمی پسی بیاراغله!!
دلږ سوچ نه ورو سته
دتیر ایستو نکی ګهیځ په معنی و پوهیدم
اودارا ته په ډاډه سره جو ته شوه چې دی ډول ګهیځ
ډیر تیرایستی

اودبرې سپیڅلی هیلی بې نیمګړی نیمه خواد خاورو
لاندې کړ یدې
بویه! ناهیلی نه شم ...
اودر ښتینی گهڅ دراتلو دپاره
له هلو ځلو!
شخړو اوسپا رزوڅیخه
لاس وا نخلم

پـردی

ته ما ته پردی یې
زمونږ ترمیڼځ مینه نه شته
د عشق او محبت نه شاید و نکی اړیکه هم
حتی د انسانیت په خاطر او نامه
متقابل احترام هم نه . . .
زه اوته هغه دوه سوازی کرښو ته ورته یو

چې په ټول نړۍ دا والی کې
له یو بل څخه جلا
او پردي یو
زمونږ ژ دیوالی دخپلوی معنی نه لری
دا محکه: زمونږ روح نا ارامه او پردی دی
نوته ! ای په ټول نړۍ والي کې پرد یه !
زما څخه دمینې او گذشت هیله مه لره
پوهیزی ولی ؟
دا له خپل زړه و پوښته
له خپل احساس او کړنی څخه
له خپل شوم نیت او کوږ عمل څخه
له خپل کر کجن او نه پخلا کیدونکی روح څخه
بیا به و پوهیږی چې-مونږ یو بل ته سره پردي یو
خو:
مجبوریت سره یوځای کړي یو
او - همدغه مجبوریت مو یوځای اوسیدونکی
هڅوی
هو کی :
دجبر او زور قانون
تل همداسې ن روند
اوجا بروی،

ویره

مه‌و یربیره !
ویره لکه تووره بلاده
سری نابود وي
هرژوی دسرگ د پاره پیدادی
ویره له څه نه ؟
له څه باید و بیربیرو ؟

ابدي ژوند هیڅاد پاره نه شته
تول مري
څوك نن
او څوك سبا
دا رن انسان هره ورځ مري
خو ! زړور خلك فقط یو ځل ...
ته د تدریجي مرګ په معنی پوهیږي ؟؟
یو تعبیر یې ویره ده
دا رن انسان ژوند ی او سرلوړی نه وی
هغه تل سړ او یې عزته وي
زړورتل او ترا بده
په زړونو او فکرو نو کې ژوندی وي
خلك یې نا زیږي
او تار یخونه پرې ویاړي
له دا رن څخه هرڅوك کر که لري
او په سپکه ستر گه ورته گوري
دا رن نا پوه وي
دا رن د خپل علمیت څخه گټه نه شي اخستی
ځکه د ر ښتیا و یلو جرئت نه لري

اې جرثنه علمیت داسی مثال لري
لکه د بې سواده سړه د ګټورو کتابو نوشتوالی
نو : راشه !
د ربښتیاو څخه ،
مه ویر یږه
راشه !
ربښتینی انسان شه
خو ځلمك دې ونازوې
هلته به ته د ژوند
په معنی و پوهیږې
اې ځمیشه
مړه !

ښکلا

ستا د ښکلا انګازې
د لورته خورې وې
هرچا ستاد زړه وړونکی ښکلا ایدو
هیله در لوده
ټول ستا پر ښکلا نازیدل
او نادیده په تامین شوې وو

هرچا داهيڅه کوله چې تا ته درورسي
اودخپل کړيدلی ژوند ستونزی !و کړاوو نه ستاد
ښکلا په پاوشو کې هيرې کړي
زه هم نا ديده په تا مينه شوم
ستاد عشق اوخوږې مينې ترانې مې زمزمه کړې
ستاستاينه مې وکړه
تا ته مې دزړه پهوينو شعر ولیکه
ته مې درنګينو کلماتو په سخملي لمنه کې ونغښتې
ستاد ښکلا دنوم په اوريدومې زړه دسينې په تخه کې
په تا پسې بې واره تو پونه وهل
ستادليد و په خاطر مې ډيرې منډې وکړې
تا ته درسيدو په لاره کې مې هر ډول ستونزی
وزغملی
اوهرې قربانۍ ته مې غاړه
کيښوده ،
خوافسوس چې ستا ښکلا
هغه نه وه کوم چې ما اور يدلی وه
ستا ښکلا دعطوفت او مهربانۍ توده غيږه نه وه

ستا ښکلا دسبا وون ملوشه
او پسته وړ ه نه وه
ستا ر پښنا لکه د تندر هسی وه
ستا ښکلا سور او روه
چې زما په ستر گو کې يې سره ښکرې و کړل
ستا ښکلا هسی يوه تيره پستونکی
انګازه وه
چې زه يې په ځان پسې
را ښکلم
او په ډيره بې رحمی سره يې
د فريب او چال په چره زما هډونه
را پرې کړل

د مور ارمان

غرمخ یې داو ښکو سیلاب جوړو واو په سلګو سلګو
یې ویل:
ای زما خوږې موږې
زه لاډیره کوچنۍ وم
چې تا د ژوندانه په ترخو
رنځونو کې

بې دار واو درمنه دسړي خونی
په توره غیږه کې ستر گی پټی کړی
اوارمانی ولاړې

* * *

ستامینه مې ونه لیدله
ستادسینی په خوند
ښیرازه نه شوم
ستاخبرې مې په یادکې نه راځی
خو: یوازی ستادسخ کاسه مې په ذهن کې څرخی .
تاته مسیدل
اوپر تانا ز کول
راځخه هیر شوې

* * *

اې سهر بانی موږې !
ته ولاړې
اوزه دې دنړی ډیرو غمو نو ، ستو نزو
او کړاو نوته یوازی پریښودم
ته ولاړې
اوزه دې دمیړې دې رحمی

منګلو ته وسپارلم،
هره ورځ مې بېګناه
وهي اورتې،
سپورې سنګې راته وایې
ټول ځان مې تک شین دی

په نس وړې یم
او په تن برېښلې
هېڅوک پرمالور ینه نه کوی
لاپه دې کوچنیتوب کې
څومره کړ یږم
اور ځیږم
* * *
ای زماد کی موړې!
دا نړۍ اوخلک یې
څومره دسخت زړه
خاو ندان دې
زماد پاره په دغه
دغمونو لکجهان

کې هیڅ خوښی نه شته
یوځل مې خوته خوښحاله کړه
او په خوب کې راته راشه
چې ودې وینم
په کتو دې ستر گی د کې کړم
او دیوی گړی دپاره
خپل شوم سر نوشت
او دمحروم ژوند
عذاب ونه هیر
کړم

ستا مينه

په ګرانه تاتوبيه !
له تا لري
دلته د پر ديسی په زړه خوړونکی نړی کې
په تا پسی دزړه وينی خورم
* * *
که څه هم دلته
دغلمن دبګيو په ښا راو سيمه کې
هرڅه شته

شنه شفيلي بې، دباغچو رنګا رنګ ګلان بې
دغرو نو اورغو نو ښکلی منظرې بې
انسان مستوي اوغمونه هيروي

* * *

خو !
دا واړه
ستا له دنګوغرو، سپينکلودرو
خړورغوا و سپيرد ښتوشخه ځار

* * *

يه ګرانه تاتوبيه !
ښکلی هيواده !
ستا پرتټر مې خاړ پوسی کړيدي
ستا پرګوګل مې دنګلی دي
ستاد مستی هوالاندي
شته شوي يم
نوځرنګه تاهرولسی شم !

ستا په بیلتنه کې
تل تاسې نو لټوم
تا یادوم
اوسنا په یاد
اوښکې تویوم

۱۹۶۸
دېګیو ښار
فلوېین

تپوس

په هار خو پې سپېره ګردونه پراته وو
دستر ګو کاسی پې ژوړې معلو سیدې
ستړیا اوبد بختی ځپلی وو
ورنږ دی شوم
په اوږه مې ورته لاس کښېښود
اوورځخه مې تپوس وکړ

ته څوك یې ؟
زه درسره سرسته کولای شم ؟
هغه سخت تیندك وخوړ
اوپه قهر جنه لهجه یې راته وویل !
آه: دادم داولاد دلاسه هیڅ ځای په ارام نه دی
په ویره مې ورته وویل :
انسانی حس اړه کړم چې له تاڅخه ستاد درد و نو
تپوس وکړم
په حیرانتیا او تعجب سره یې
راته وویل :
انسانی حس !! ؟
ته څوك یې ؟
چې دوسره ستره دعوی کوې
ماخوتر اوسه پورې انسان ، انسانیت
او انسانی حس نه دې لیدلی
ورته مې وویل : داخلك څوك دې ؟
ته انسان چا ته وایې
هغه وخندل

زمالاس يې پخپلو لاسونو کې ټينګ ونيوه
اوراته يې وويل:
کوچنی !
داخلك بنی آدم دي
دانسان او بنی آدم ترمنځ ډيرتوپير شته !
دانسان کلمه دانس څخه مشتق شوي
يعنی دمينی اومحبت دتودي کلمی زيږنده ده
اوبنی آدم چې فقط آدم له آدم څخه زيږي
انسان کيدل ډير گران دي
انسان دخپل همنوع وينی نه څښی
انسان چاته دوکه نه ورکوي
اوخپل دوست نه تيرباسی
انسان دبل په ژړا کې خپله خندا نه لټوي
انسان دځان دنيکمرغی په خاطر بل نه بدمرغه کوي
انسان خپله هوسا يي دبل
دتباهی څخه نه غواړی ،
انسان چاته دروغ نه وايي
اور يا کاره نه وی

انسان دنورو ګټې ترخپلو ګټو مقدمې ګڼي
او دانسان دسعادت غوښتو نکی وی
انسان ته انسانی کرامت لوړ
اودر ناوی بې کوی
انسان خپله خوشحالی دنورو په خوښی کې ګوری
او تل دنورو دپاره هڅیږی
زما کو چنی!
نو: اوس ته ووایه چې:
انسان شته ؟

تصـــور

مازديګرووو

په زړه مې دغم تورې تريسې راخوريده.

ډيره ناکراره وم او په ناکراري کې مې خپل ناکراره او درديدلې زړه ته دخوږ تسل منزل لټو لو لهځايه راپورته شوم زړه نازړه مې دبن پـه لور ګاموناه او چت ګرل دبن درنګينو ګلا نو نغداره مې کوله

ما په ډیری حیرانی او بې واری دهر ګل په نازکه
او ښکلی پانه ګې ستا د ښکلی او ګلالی مخ
نندارې کوله

دې ټول ګلان زما نا کراری
او حیرانی ته فکر وړی وو.

کله چې د ګلانو تر څنګ کښینا ستم

او د ګلاب ښکلی رنګ ته مې وکتل: ته رایاد شوی
زړه مې وپرسید، سری مې د که شوه په مخ مې
رنې رنې او ښکی رارانی شوی
او د ګلاب د بوټی په بیخ ګې ورکې شوی.
سوړا سویلی مې له خولی ووت
سرمې په زنګنوور دننه کړو په خیال او تصور
ګې ورکه شوم تاخپل نازنین لاس رااوږد کړ
ما ستا لاس پخپل لاس ګې تنګ ونیو او د خپل
ځای څخه پورته شوم د باغ یوه ګوټ ته ورغلو
تاراته وویل: زن څه ښه ورځ ده

ما درته په داسی حال ګې چې ستا دستر ګو په

بې پایه دریاب کې ډوبیدم وویل :
هوا داسې دخوښې ورځې دې تل وی
اوستاد حسن بن دی الله سمسورلری
تاپه سینه زما خواته وکتل
زمالاس دی ونیوه او راته وډې ویل :
راځه چې گودرته ولاړشو.
دواړه پاخیدو
گلاب چې ته ولیدی مخ بې پانه وپوښه
سروستا درسا ته په تماشا شوه
توربورا ښونکیدل شروع کړل
بلبل د گیلی په ډول وژړل
دنرگس سترگی وربښدی
دخاتول په زړه داغونه پیدا شول
امرتت شو
مجنون بید تاته دتعظیم او احترام سرتیټ کړ
زما په سترگو کې دخوښې او ښکې وځرخیدی
دواړه په ډیره خوښې مست او بې پرواد
گودر غاړې ته ورسید و

ته په ډوه غټه ګټه ګښيناستـی او پښودی
دګودراوبه رنی کـړي
ما پهلاس کې دګلانوا ميل نيولی وو
ستاخواته در غلم
در نژدی شـوم
او په خپلو رپيد لولا سونومې دګلانوا سيل چې
هره پانه يې دزړه
په وينورنګ شوې وه
ستا په غاړه کې په ډ يرادب
اومينه و اچوله
دواړه د لوړو غرواو رنوا وبو په نندارې بوخت وو
کا ئيفا توستادپټکلاپه څپو کې ځان هير کړي وو
دسيند مستی څپی له شرمه خاموشه وې
اودشور او زور څخه لويدلی وې
دساقی دلاسه پياله واوښته
خم يې نسکو رواو کنډ ولی يې مات شوی وو
ستادسرګوشونډ و په باده مست
اونشئه ماشوم زړ ګوتی توپونه وهل او بی

اوپي واره‌درزيده چې!
يوتريخ غږمې ترغوږ شو
چاراته ويل : ياخپره تياره‌شوه
دې دروازې تړو
سخت ټکان مې‌وخوړ
سرمې‌دزنګنوشيخه را پورته کړه،اوترا وترمې
هري خواته‌وکتل
مابام شوي وو په اسمان کې ستوري ځليدل
زماد ښکلوخيالو نوجهان و ران شو
په غمجن اوناکراره زړه‌دخپل ځای څخه‌را
پورته شوم اودسارې اسويلی سره مې
يوځای وويل :
په‌تصور مې ځان پا چا کړ
چې سرمې‌پورته کړ سلنګ‌ددوهی ومه

پښېمانی

ته د ډېر عمرپه ما پسی وګرځیدې
په ډوه اوږده زمان کې دې زماستا ینه وکړه
تا په ما پسی ډېرې هلی ځلی وکړې
زه هم په تا تیروتم
تـه مې خپل خواخوږې وګڼلی
تا ته مې د دوستی اووفا لاس در کړ

ما ستا د دوستۍ په خاطر
خپل د پرښه خواخوږي اودوستان دلاسه
ور کړل
او همد ازما اشتباه وه
کله چې تازه په خپله لومه کې نښتې او پوائې ولیدم
نو هله دې خپله اصلي هڅه را ته وښوده .
له مادی هرڅه لوټ کړه
هو: ته هغه دلستونې مارو ې
کوم چې ما پخوا نه شوې پیژندلاې
تا راته داسې کوهی کښلی چې زه ترې ځان نه شم ایستلی
تا راته داسې زهر را په خوله کړې
چې نه مرم اونه ژغورم
د پښتيمانۍ اوښکې مې په ګریوان څڅې وهې ،
دندامت اورمې دزړه کتړې راسیخې
لاړه رانه ورکه ده
اوستا د فریب په لومه کې لاس اوپښې وهم
نه پوهیږم چې نور به څومره پڅپلو فریبی خبرو تیرباسی
او د دوستۍ په نامه به ورځې هرڅه لوټ کړې
زه پوهیږم چې ستا دوینو څښلو تنده نه ده ماته شوې

ډ یر نور به دخپلو وحشی غو ښتنو
او حیوانې خواهشاتو څخه قربان کړې
ځکه چې ته ډ یر سپین ستر گی
او بې شرمه یې
او بې حیایې ستا کړ نه د ه
ته ډ یر قیمت او ې ښه یې
زه پوهیږم
چې ډ یر نور معصوم او بې خبره به
د د وستی او خوا خوږی
په نامه لوټ کړې
اود تیا هی تورو کندوته به یې
ورګذار کړې
ا ی بې حیا لوټ ماره ! ؟

د بابړي شهيدته

ته مړ نه يې
څو چې د اجهان وي او انسان
څوچې ژوند وي
او دا محکه او آسمان
ته به ژوندی يې او تل به په زړونو او فکرو نو کې يې
تا خپلې سپيڅلی جا سی دخپل وطن

دعزت د پاره
دخپل ښت او ناموس دخوندي ساتلو
په خاطر
پخپلوو ینوسري کړي
تا خپل شرف په چاونه پلوره
ته بې ایمانه نه شوي

* * *

ته مړنه بې
په تابه و پاري ستا په لاره بهځی
اوستاهوډ بهسات نه کړي
ستادشرافت لمن به سپکه نه کړي
او دخپل وطن دخود ارادیت دښن گلونه به
په خپلو وینوخړو به ساتی
اودخپلو سرونو په قیمت به
ستا بچیان
خوندي و ساتی غلیم نه
ستاد زړه ښایسته ارزو
ښکلی ارمان

ته مړ نه یې
د وطن د خپلواکۍ د ډاډه
د خپل تاریخ د سرلوړۍ
په خاطر،
خپلې جامې په خپلو وینو رنګینې کړې
تا د خپل وطن بربادي نه شوه زغملای
د زمري په څیر د قیري کوونکو په مخ کې ودریدې
او خپل تندر دې د تجاوز کوونکو
د تورې سپر کړ
او په هوره متانت او سپرانه دې
د شهادت جام ګوټ کړ ډاډه به په تا ویاړي
د وطن ډېرې نازنینې
او پنکلې نجونې به ستا مزار ته ستا د لمانځنې ډاډه
تا ته درځي
د خپلو سرو نوسره لوټې به ستا په مزار غوړوي
ډېرې سپینځلې پېغلې به
په خپلو تورو

اوګورو زلفوستادمرالد خاوري جاروکوي
ستاد مزار خاوري به
پخپلو تورو څټوستر ګومښي

* * *

نو : ته مړنه يې
اي د وطن د ننګ په لارکې
قربان شوې شهيده !
ستا په ګولو سوري
تترنه قربان .

عمران

ته عمران شوي
خو : دغه نه ؟
زماد وينو څيخه‌دي تغذيه وکړه
ته‌زماله وجودنه جوړشوی
ستاد ځان جوړ بنت
ستادسلو لونو پيوندزمادرگونو
او سلولو نوڅخه پيوند موندلی

زما کړید و
زمانا ارا میوتاته سکون
اوقرار در کړ
ته! زما دژوند کتروونه جوړ شوې
زما دتوان او طاقت نه دی قوت وا خیست
زما وېړ و نوستر کړې
زما پښکلیه عمرانه !
ستا پښکلی ستر گی دې دنړی دترخو با دو نوځغه
تل په امان وي
ستا گلالی څیره دی رب تل غوړیدلی
او تازه لری
امید چې ته سبتگراو لوی انسان شې
دپلار او مور سپیڅلو هیلو
دجهان عمرانه !
دنړی دور انو کنډرو
عمران شی
د خپل هیواد
دپښکلا او ترقی
عمران شې.

۱۳٦۲-٥-۷

دعاجزی پیغام

اې نا ریښه !
زه نو ره ستړې شوې یم
او نه شمه کولای چې
ستا په اوسپنیزه پنجره کې دمات وزری
مرغی په خیرژوند و کړم
ما تل ستا دنیکمرغی دپاره زیارا یستلی او ته

سې خو شحا له سا تلی یې
خو : تا هیڅکله زه و نه پیژ ندم
او زما په سپیڅلو احساساتو با ندی و نه پوهیدی
زه حق لرم چې تا ته ووایم
اې نا رینه !
زما په سینه کې هم لکه د تا په څیر دوینی یو ه سره
توټه د زړې
زه هم احساس، عقل، مغز، شعور او جذ بات لرم
همغه شان چې ستا ستر گی د شکلا و په لید و سره پر قدیږي
همغه ډول چې ته د احترام غوښتنی احساس لري
همغه ډول چې تا ته خپله خوښي
او غرو ر گران دي
همغه ډول چې تا ته خپله آزادي او غوښتنی
محترمی دی
لکه څنگه چې ته له خپلی یې برخی، نا کامی
او رتلو څخه درد یږی
زه هم تول څیزو نه کرت لکه د تا په څیر احساسوم
او درك کوم

نو : ته ای نارینه!

ما ته هم همغه حق را کړه کوم چې ته یې لری

زه نوره ستړی شوی یم

او نه شمه کولای چې ستا د ظلم او خود خواهی

په سره انګار دځان وریښدل او لکه

د بسمل سا رغه پخپلو وینو کې دځان

لمبدل تحمل کړم

او دعا جزی

او سیاه سری په نوم د پوچو اصطلاح ګانو

قربانی شم

زما غوښتنه او عزم را سخ

او نه ما تیدونکی دی

ته نور نه شی کولای چې په زور سره ما دځان تابع کړی

او دنار ینتوب په نامه ظلمونه

او ستمونه په ما تحمیل کړی زه پوهیږم چې څه وکړم

زه په تینګه سره د ظلمو نو په مخکې

خپل تټر دتورو سپر کړم

دتورو ستمونو ما نیې په نسکورې کړم
داستبداد ځنځیرو نه به وشلوم
اودخپلو حقه حقو قودلاسته راو ستودپاره به
مبارزه و کړم
اوزما هاند به ټولې هغه بد بختی
فسادونه ،کړاو ونه
اومحرومیتونه لهمینځه یوسی
کوم چې دزړو
اوور ستو منا سباتو
زیږنده ده.

بربوکی

تالغده اوبر یښنا
پرله پسی په ډیر لوړ اوقهر جنګیږ
داسمان په زړه کې په درزاوه
تولود باران په هیله ستر کی
دهسك په لوربرندې نیولې وې
زړونود ډیرشوق نه په گو گل کې بې واره توپونه وهل

تولوو ېل: آه! فصلونه به خړوب شی
باران!
درحمت باران!

* * *

نا ېره چوپه چوپتیا شوه
دلږې شیبې نـه وروسته
هیڅنا که غږو نه پورته شول
توپان!
خړ گردونه را والوتل
تپه تو ره جوړه شوه
دامید رڼا دوهم گردونو پټه کړې وه
هرچا دتوپان د خونړیو منگلو څخه
دځان د خلاصون کوښښ کاوه
ېې هدفه ېې سنګرې وهلی
ېوه خوا اوبله خوا تښتیدل
خوا فسوس چې:
تباه کوو نکی ېر بو کی تول پخپله ناولی
غږیره کې تیمگ نیولې و و
او په ډیره چټکی سره ېې
دمرگ اونا هود ی لو ړې ته
وړل.

چوپتیا

ته تل زما څخه، زما د چوپتیا سبب پوښتی
ما ته وایې چې: ولی خاموشه یم؟
ولی نه غږیږم؟
څه نه وایم
اوښه نه لیکم؟
ولی مې ځان ژوندی په ګور کړی؟

ډوهیږې چې زه ولی چو په یم؟
اوچا دغه خوږو نکی چوپتیا ته اړ باسلی یم
هو: دا ټول ته کوې
تا زما غیږه ستونی کې خفه کړی
تا زما او از په تا لوکې پرې کړی
تا مې خوله له سپیرو خاورو
او تورو وینو څخه ډکه کړې
ما ستاد ظلم دلاسه
ستاد بې عدالتی
او جبر دلا سه چوپتیا غوره کړې
اونه شم غږیدای
هغه څه چې: ته د هغو ویل
او لیکل زما څخه غواړې
زما و جدان بې دویلو او لیکلو اجازه نه را کوي
هو کې:
ته مادر وغږیلوته مجبوروې
ته غواړې چې زه په غلطه ستاسو ستا ینه و کړم
ستا منفی اوغلطه کړنه مثبته
او سمه وګڼم

ته غواړې چې ستا يې همتی غښتلوالی،
ستاوران کاري ستا اپادي
اوستا شهکارې وګنم
ستا په انسان وژنې دانسان دوستی نوم کښيږدم .
ته غواړې چې : زه تاته دهيواد
اوخلکود حقوقواوګټو مدافع ووايم
ته غواړې چې زه دخلکو په ستر ګو کې خاورې وشيندم
تورته سپين
اوشپې ته ورځ ووايم
خو: زه هيڅکله دا نه شم کولای
ځکه څه نه وايم ،څه نه ليکم
اوچوپتيا مې غوره کړې
زه تاته ريښتيا نه شم ويلای
ته په ريښتيا و خواشينی کيږی دقهر
اوغضب لمبی دې وريږوی
ته به تل ګمراه
اودواقعيت څخه لری پاتې وی
ځکه چې هيڅوک تاته ريښتيا نه شي ويلای
ستاد ظلم دلاسه

ستاد خونړیو سنګلوله و یری
ټول چوپ دی
خو:تر څو ؟؟
ترڅوبه داچوپتیاوی ....؟
داچوپتیابه یوه ورځ ماته شی
او در پښتونی سهار پلوشی به خوریشی
هلهبه زماو زماپه څیرډیر نورتاته پهزغرده ووایوچې
ته خاین بې
ته سړی خوړونکی لیوه بې
او بې پتهو طن لوټونکی بې
او سازړه خوړونکی ناولی غږبه دتل دپاره ستاپه
ستونی کې بندی کړو
او ستاتور یادونه او کثیفی خاطری به
دتاریخ تورو کند و ته
وسپارو
او بیابه دتاریخ پانې
ستاد ظلمو نوپه هکله
ستادوحشی گری به برخه کې
ستاد ناروا و پهباره کې
نړیوالوته
وغږیږی

PROPERTY OF ACKU 10/81
PROPERTY OF ARIC Established 1969

سیده‌کبرا مظهری ملورو دمرحوم سیدمظهر الحق لور دننګرهارولایت دخوږیانیو دولسوالۍ په‌یوه روحانی‌او روښنفکره کورنۍ کې‌زیږیدلی ده .

په‌اته کلنۍ کې یې لومړنی شعر دننګرهارپه‌ورځپاڼه کې خپور شو .

دکبرا ځینی آثار په اردو، المانی، ناروېژی، [illegible] ژباړه‌او خپاره شوی دی اوهم‌یو په‌لړه پښتونخواه کې دآثارو درنده یادو نـــه شوی ده .

کبرا په ډیرو بین المللی سیمینارونو کـی ونډه‌اخیستی او خپلی علمی، ادبی‌او تحقیقـی مقالی یې لوستلی دی .

دمظهری ملورو آثار په لاندی ډول دی .

۱ـ بریښنا : دوړو داستانونو مجموعه ده‌چې په ۱۳۵۱ کال کې چاپ او خپره شوی ده .

۲ـ دزړه وینې: دشعرونو مجموعه ده چـی مطبوعاتی جایزه یې‌هم اخستی ده‌او په ۱۳۵٦ کال‌کې چاپ او خپره شوی‌ده .

۳ـ سپوږمی : ناول‌دی چې په ۱۳۵٦کال‌کې‌چاپ اوخپور شوی دی .

٤ـ لمبې: دشعرونو مجموعه‌ده چې په ۱۳٦٤کال‌کې چاپ او خپره شوی ده .

٥ـ اندیښمنه ډالی : دادبی نثرمجموعه ده‌چې ستاسو په‌لاس‌کې‌ده .

٦ـ پښتنی لیکوالی او شاعرانی : په دووټوکوکی علمی او تحقیقی اثردی چې لومړی‌ټوک یې چاپ ته تیار دی .

۷ـ توپانی ځپی : دشعرونو مجموعه چې‌چاپ ته [illegible] .

۸ـ ډولی : دوړوو داستانونو مجموعه چـی چاپ ته [illegible]

سیده کبرا مظهری ملورو نور قلمی آثارهم‌لرې‌چې لاتراوسه ترتیب شوی .



انتشارات کمیتهٔ دولتی طبع و نشر ج. د. ا
مطبعهٔ دولتی